# د ترهګرو د مشرې، امریکا د بهرنیو چارو کینه‌کښ وزیر کوربه‌توب لوی شرم دی!

**خبر:**

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکښ منځني ختیځ ته د خپل سفر په ترځ کې ترکیې ته لاړ او له خپل ترکي سیال، هاکان فیدان سره تر لیدنې وروسته یې له ولسمشر رجب طیب اردوغان سره وکتل.

**تبصره:**

په غزه کې د اکتوبر ۷مې له پېښې وروسته منځني ختیځ ته د سفرونو په لړ کې بلینکښ دویم ځل ترکیې ته سفر وکړ. نوموړي ترکیې ته په خپل لومړي سفر کې یوازې د بهرنیو چارو له وزیر، هاکان فیدان سره لیدلي وو، دا ځل یې له ولسمشر اردوغان سره وکتل.

په غونډه کې د بحث اصلي موضوعات په ناټو کې د سویډن غړیتوب او پر ترکیې د ځلوېښتو F-16 جنګي الوتکو پلورل وو. ویل شوي چې امریکا پر ترکیې فشار راوړی چې په ناټو کې د سویډن غړیتوب نور ونه ځنډوي. د سرچینو د معلوماتو له مخې، د دغې لیدنې اصلي موضوع غزه وه. فیدان په غزه کې د سمدستي اوربند او دوامدارو بشري مرستو د رسولو پر اړتیا ټینګار وکړ او د دوو-دولتونو حللارې په اړه یې د خبرو اترو د ژر تر ژره پیلېدو غوښتنه وکړه.

په ترکیه کې د کینه‌کښ ترهګر دولت د وزیر کوربه توب لوی شرم دی. دا د ترکیې دولت لپاره د شرم ځای دی چې د ترهګرو د مشر دولت د بهرنیو چارو وزیر په وینو لړلي لاس ته لاس ورکړي؛ امریکا په خپل ټول توان سره د یهودي اشغالګر دولت ملاتړ او ساتنه کوي چې د فلسطیني مسلمانانو ټول‌وژنې ته دوام ورکړي. د بهرنیو چارو، وزیر هاکان فیدان بیا د دوو-دولتونو حللارې خبره کوي چې د امریکا ناوړه پلان او د خیانت پروژه ده. امریکا خپل ټول زور وهي چې دا پلان پلی کړي. له دغې حللارې ملاتړ په حقیقت کې د غزې د مسلمانانو له سپېڅلي مقاومت سره خیانت دی.

د ترکیې دولت د عمل پر ځای تشې خبرې کوي؛ هڅه کوي چې د غزې مسلمانان د یهودو له بمونو څخه په تشو خبرو وژغوري. د ترکیې دولت د ترکیې د مسلمانانو لخوا له یهودو سره د ټولو ډیپلوماټیکو او سوداګریزو

اړیکو د بندولو او الاقصی ته د پوځونو د لېږلو غوښتنو ته غوږ ونه نیوه. دغو ټولو غوښتنو ته یې ځان کوڼ او بې احساسه نیولی و. برعکس یې له هغو وحشي اشغالگر یهودو سره ډیپلوماټیکې او سوداگریزې اړیکې ټینگې کړې، چې د مسلمانانو ټولوژنه او نسل وژنه کوي. د دې پر ځای چې له یهودي دولت سره یې ټولې اړیکې پرې کړې وی، د ترکیې له بندرونو څخه د یهودي دولت بندرونو ته یې د تیلو او خوراکي توکو بیړیو لېږلو ته دوام ورکړ. ترکیه هغه اشغالگر یهودي دولت ته خوراکي توکي لیږي چې فلسطیني مسلمانان په لوږه وژني. کله چې یهودي دولت ته لیږدونکي د تیلو او خوراکي توکو بیړۍ افشا شوې، حکومت هڅه وکړه چې خبره په دې پلمه پټه کړي چې دا بیړۍ د خصوصي شرکتونو دي او له دولت سره هیڅ تړاو نه لري.

د ترکیې دولت په سیمه کې د امریکا د گټو د خوندي کولو لپاره پراخې هڅې کوي؛ خو پر مسلمانانو د بریدونو او ځورونې پر وړاندې محافظه کاره رول لوبوي. ان یوه کوچنۍ نیوکه هم نه کوي. د ترکیې دولت د امریکا د غوښتنو پوره کولو لپاره خپله ټوله هڅه کوي؛ خو د مسلمانانو پوځونه یې بندي کړي چې په غزه کې د یهودو ظلمونه ختم کړي او له مبارکې خاورې څخه د یهودي دولت جرړې وباسي. کله چې خبره د امریکا د غوښتنې وي، پرته له دې چې زړه نا زړه شي، خپل سرتېري ډېرو سیمو ته استوي.

لنډه دا چې په دغو بې احساسه حکامو د مسلمانانو د عزت او وقار دفاع نه شي کېدی. د اشغالگر یهودي دولت ظلمونه او نسل وژنه به هیڅکله ونه دریږي. دغو ظلمونو او وحشتونو ته یوازې د نبوت پر منهج راشده خلافت د پای ټکی ږدي او یهود اشغالگر له مبارکې خاورې شړي؛ ځکه د خلافت د مسلمانانو وینې، عزت او وقار ته د خپلې وینې، عزت او وقار په سترگه گوري.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## یلماز چیلیک

## ۱۴۴۵هـ.ق کال، د رجب ۴مه

## ۲۰۲۴م کال، د جنوري ١٦مه